مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ۲۰۲۴/۱۰/۰۸

# د افغانستان د اقتصاد ظرفيت؛

## کرنه، کوچني کاروبارونه او کليوالي تشبثات

*(زمونږ هغه قوی پوتانسيل چي بې استفادې پاتـی دی)*

د اقتصاد پوهنځيو کې مو تيوريکي برخو کې ډېر ضروري مضامين ځای پرځای او مفردات مو ورته وسنجول. مونږ لويو کنسرسيومونو، فراملیتی شرکتونو، دصنایعوغول او متکاثف صنعت باندې هم بحث پکې شامل کړ، دنن ورځې د لويو صنعتی هيوادو د پانګوني يادونه هم کوو، خو د دې بحثونو په پای کې به مې تل ويل چي مونږ لاهم د خپل اقتصاد د په پښو درولو لپاره کليو(محلاتو) او لرې پرتو سيمو کې منابعو(بشري اوپنځيزو) ته اړ ياستو او لا زيات وخت دی چې د ميکانيزه، اتوماتيزه او الکترونيزه صنعت څخه خبرې وشي. بيا به مې هغه ظرفيتونه او پوتانسيل حساباو چې لرو يې، خو پام مو ورته نه دی کړی. دا شل کاله مو ويل چې بشری مرستې بايد په ( Official Development Aid/ODA ) يانکشافی مرستو بدلې او د رسمی انتقالاتو بڼه دې خپله کړي. دا ستونزه تر نن پاتې ده. آخر مجبور شوم نړيوالو ژورنالو ته مې د( The Capacity of Afghanistan Economy, Agriculture sector and Essential Contrivance) ترعنوان لاندې په دې اړه مستدللـــه او مدلــــه مقاله وليکله چې تازه نشر شوه. اوس به په پښتو هم لږ وضاحت ورکړم:
کوچني کاروبارونه او کليوالی تشبثات له يوې خوا بيکاري له منځه وړي او له بلې خوا بې استفادې (دست ناخورده)منابع تر کار لاندې راولي. په تېره بيا د له لاسه وتونکو او جريانی منابعو( Flow resources) دضايع کېدو مخه نيسي. دا هم دولتی او هم خصووصی سکتور او د دوی نوښتونوپورې اړه لري، خو څو کارونه بايد حکومت وکړي:

- د اقتصادی زيربنا جوړول( مجهز او ګړندی ترانسپورت، برېښنا، د اوبو انحرافی او ذخيروی بندونه جوړول، مخابرات او مواصيات، د روغتيا خدمات، تعليم او دحرفوی- تخنيکی زده کړو موسسات)؛
- د بانکونو او په مجموع کې د مالی موسساتو( دولتی بانک، تجارتی، رهنی تعميراتی- معاملاتی بانکونو، بيمې، دتقاعددخزينې،کوچنيو پوروركوونکو ګروپونو..) فعالول؛
- د بانک داعتبار بېرته لوړول او ساتل، يعنی د سالم او نېک شهرت لرونکي بانکداري سيستم ايجاد؛
- د خصوصي سکتور ډېره ښه حمايه او رهنمايي؛
- دحکومت له خوا سبسايدې منل؛
- د بندرونو پرانيستي ساتل او له ګاونډيو سره د اقتصادي مراوداتو ښه تنظيمول؛
- د هيواد دننه توليداتو مشابه اجناسو د ورود مخنيوی؛
- د وارداتو په وړاندې د صادراتودتقويې د پاليسی طرح او عملی کول؛
- محلی منابعو کې د ولسونو ډېر ښه راشريکول او دهغو ساتنه، يا په معقوله او علمی بڼه له دغو منابعو او سرچينو د استفادې طرز؛
- دخصوصی سکتور او کليوالی تشبثاتو داقتصادی فعاليت په ترڅ کې د حساس فرهنګی ميراث او اقليمی يا د چاپيريال ساتنې مسايلو څارنه( دې برخه کې خصوصی سکتور بې پامه او لازم معلومات نه لري)؛
- د طبی او صنعتی بوټو د تکثير او د حکومتی ادارو تر څارنې لاندې دهغو پروسس؛
- په بهر کې ميشت پانګوالو ته دهيواد دننه فزيکی او احساسی امنيت ډاډ ورکول او له بهر څخه هيواد ته د دوی د ښې پريمانه پانګې دلیږدلو ممکن کول؛



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

- د سیګار( دافغانستان د پرمختیا سره د امریکی د متحده ایالاتو دمرستو د تفتیش اداره )وایی چی تېرو دوو کلونوکي ۲،۳ میلیارده ډالره maintenance +(زښته ډېرې پیسې دي!)افغانستان ته ورکړل شوي، که دې سره له هیواد دبهر مهاجرو راالېرل کیدونکی مرستي هم جمع شي، یو کافی اندازه اسعار ورڅخه جوړېږی، چی ملی اقتصاد ته تزریق شوي اوهر درد وربادي دوا کیږي او په انکشافی پانګه یي اړولای شو؛
- ځنګل او څړ ځای ملی شتمني او د یو قیمتی میراث په توګه ساتل او ځنګلونو احداث او بیا احیا؛
- د کوچنیو زمکوالو د کوچنیو کروندو دپیرودلو مخنیوی؛د زمکي د نهه ډوله استعمال کلک رعایت او په قوانینو کې یي درج کول(د زمکو اداره دي فعاله شي)؛
- د ښکار د قانون جدي تطبیق او دې ته ورته نور لازم تدابیر چي متاسفانه یو هم تر کار لاندې نه دي راغلي.

زموږ ملی اقتصاد کې لاهم کرنه او مالداري عمدتاً مسلط سکتور دی. زموږ مالداری او بنوالي یوه قوي عایداتی منبع او دتولید ظرفیت دی. دهېواد تقریباً اویا سلنه خلک کلیو کې مېشت او ژوند یي په سیده او ناسیده توګه د کرني سکتور پورې ترلی دی. د کښت لپاره کافی زمکه او کافی اندازه رواني اوبه(سیندونه) لرو(مقاله کي مي په ارقامو او دهغو په موقعیتونو سره ښودلي دي)، خو د اوبخور سیستم ندی جوړ. نو ضرور ده چي د اوبو دمدیریت پروګرامونو ته دوام ورکړو. د اوبو د سرچینود مدیریت کولو په ترڅ کې باید د اوبو لګولو سیستم باندې تمرکز وکړو. د اوبخورو سیستم باید دکلیوالو ترمنځ د شخړې لامل نه، بلکې اطمیناني، عادلانه او کافی او د وېش او آبرساني مناسب سیستمونه جوړ شي، ډېر آسانه ده چي له لاسه وتونکي پریمانه اوبه کروندې ته رهنمایی او تر استفادې لاندې یي راولو.

د کرني سکتور د افغانستان لپاره ډېر زیات مهم او د نوي په پښو درېدونکي صنعت لپاره خام توکي برابروي، نو د صنعت او کرنی ترمنځ باید د P-P رابطه ټینګه شی چی کرنه خام توکي Push او صنعت یي کش Pullاو جذب کړای شي. په دې سره د صنعت وده چټک اقتصادي پرمختګ ته زمینه برابروي. کله چي د کرني او صنعت وده تامین شوه اقتصاد پیاوړی او ورسره خدمات(صحت، تعلیم، ترانسپورت، مخابرات او مواصلات) هم ښه کیږي، دخلکو د شعور کچه لوړه، خرافات او فتالیزم محو او د منکراتو مخه نیول کیږي. جامعه ثبات مومي او د ټولنې د افرادو عزت ډادمن کیږي. د نو پایه صنعت په ارتقایی سیر سره بهرني تجارت کې کسر له منځه ځي اوصادرات ډېرېږي. تجاربو ثابته کړې ده چي صنعتي او مدنی پرمختګ اووده د ملي یووالي او دعامه شعور اوچتولو کې قاطع رول لري، تعصباتو له منځه وړي او د آبادی هڅي یوموټی کوي.

متاسفانه اوس موږ یوه مصرفي ټولنه یاستو، د بیوزلی له امله مومل‍ی اقتصاد کې د توکو(اجناسو) او خدماتونو لپاره تقاضا ناچیزه ده چي ممکن په دې حالت کې خصوصی سکتور ژر او ښه وده ونشي کولای او ممکن د بیکاري له منځه وړلو کې هم ژر بریالی نه شو، څو که حکومت پورته یا شوي قدمونه اوچت کړي او اصلاحي تدابیر ولري، دا ستونزه حل کیږي. تقاضا هغه وخت لوړیدای شي چي خلکو ته د استخدام فرصتونه برابر او عاید ولري. یعنی تولیدي اجناسو او عرضه کېدونکوخدماتو ته دعمومی تقاضا لوړول او ښه کول باید د اقتصادي سالمو او معقولو پالیسیو او پلانونو لومړنی هدف وي. په بودیجه کې د کسررفع ، دعامه مصارفو موثراو مثمر کول، وار په وار د انکشافي بودیجي زیاتول او د عامه مالی عوایدو او مصارفو د مستند او رسمی کولو او په ارقامو سره یي په ښودلو(احصائیوي سیستم او راپورنه تنظیمولو)سره شفافیت ډادمن کیږي. د موجوده دیفلاسیوني اندېښنو په نظر کې نیولو سره، داسي وضعیت چي حکومتي عامه مصارفو کې لوړوالی وښیي، کولای شي اقتصادي پرمختیا راولي، د دیفلاسیون فشار کم او شفافیت نور هم بهتر کړي. د مالی مدیریت (FM)موجود طرز کې شاید د تېرو شلو کلونوپه اندازه فساد موجود نه وي، د جنګ په درېدو سره به ممکن جرمی او تور اقتصاد یوڅه کنترول شوی وي، خو غیر رسمی اقتصاد لا هم شته. دکلیوالي تشبثاتو ( چرګانو روزنې، بافت او ګنډلو لاسی صنعت، کلالي او کاشي جوړول، نجاری او مستظرفه صنایع، کبانوروزنه، د شاتو د مچیو او دوربېښمو دچنجیوروزنه، لمڅی، پوزي او پوستینن جوړول..) وده د ملی اقتصاد رکود له منځه وړي او د عامه اوخصوصی سکتور په ودې مثبت تاثیر کوي. پایله یي د منکراتو محو کېدل او د مشروع اقتصادیه لرلو یو آبرومند ژوند ډادمن کېدل دي، دا په داسي حال کې چي ملی-پرمختیایی پروژو او اقتصادی فعالیتونو ته لکه د پخوا په شان تهدید نشته او جګړه ودرول شوه. اوس هغه فرصت رارسیدلی چي افغانان په دغو ټکیو غور او فکر وکړي. په انګلیسي ژبه ذکر شوی مقاله کې بېلابیلو برخو کې ظرفیتونه ښودل شوي، تر څو نړیوال هم د افغانستان ظرفیتونو اوودې ته متوجه، امیدوار اووهڅول شي.

**نتیجه:** د افغانستان تاریخی دښمنانو په غلطه دا خبره مشهوره کړې ده چي دافغانانو کلتور کی تعلیم او پوهه نشته او افغانستان د تاوتریخوالی او جګړو میدان دی.

د دې د رد لپاره څېړونکو، لیکوالو او استادانو څخه هیله لرم چي دګران هیواد پرتم، د پوهي او اقتصادي ودې ظرفیت په نړیوالو ژبو نړی ته معرفي او دا ثابته کړي چي افغانستان لا هغه وخت د ترقي او تمدن لوړو مدارجو کې و، چي دسیمي هیوادونه ورڅخه بی خبره وو. د افغانستان دبیرته پورته کېدو اوترقی لپاره کار په کار ده. مقاله په انګلیسی لس مخه ده، خو محتوا یي ما دوه مخونو ته رالنده کړه. درناوی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ